# ولې باید زما د ماشوم لپاره په

# وینه کې د سربو د شتون معاینات

# ترسره شي؟

1 **د سربو فلز د ماشومانو لپاره خورا خطرناک دی.** دغه فلز د لاندې ستونزو لامل کېدلی شي:

- ماغزه او عصبي سیستم ته د زیان رسول
- د ودې یا پرمختیا ورو کول
- د زړه کړې او چلند اړوند ستونزې
- په اورېدو او خبرو کولو کې ستونزې

2 **Virginia کې ګڼ شمېر زاړه او پخواني کورونه شتون لري.** دا په دې معنا ده چې ستاسو ماشوم (ماشومان) ښايي د سربو له لرونکي ودانيز رنګ، خاورو، اوبو، یا په کور کې له نورو اړوند سرچینو له لارې له سربو سره مخامخ شوی وي.



3 **زیاتره وختونه، هغه ماشومان چې له سربو سره مخامخ کېږي په هغوئ کې د ناروغه کېدو هېڅ نښې نښانې نه لیدل کېږي.** په دې اړه د پوهېدو لپاره چې ایا ستاسو ماشوم له سربو سره مخامخ شوی دی او که نه یواځینۍ لاره داده چې د هغوی د وینې معاینات ترسره شي.

4 **کوچني ماشومان زیاتره غیر خوراکي توکي، لکه د لوبو شیان، په خوله کې وهي.** دا د دوی په بدن کې د سربو د زیاتېدو خطر زیاتوي.

هغه ماشومان چې له سربو سره د مخامخ کېدو له خطر سره مخامخ وي باید په 12 او 24 میاشتو کې په وینه کې د سربو د شتون معاینات ترسره کړي. د خپلو ماشومانو لپاره په وینه کې د سربو د شتون د معایناتو په اړه د خپل روغتیایي پاملرنې له چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ.

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH

د سربو له امله د مسمومیت د مخنیوي په اړه د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، له دې وېب پاڼې لیدنه وکړئ
/www.vdh.virginia.gov/leadsafe